محمد زمان کلماني

# د پښه یی د نومونې وجه

پښه یی چی د افغانستان د یو قوم او ژبې نوم دی په لرغونو سندونو، لیکنو او کتابونو کې د بهاشه، پیشاچه، پیشاوي، پاشا، پشا، پاشایی، پشایی، پشویی، پشهٔ، پشه، پشی او په نورو ېنو راغلی دی. دا چی په خپله پښه یی د کوم نامه څخه اخیستل شوی او یا د نومونې وجه یې څه ده او ولې دغو خلکو او ژبې ته پښه یی وایی؟ په دې هکله بېلابېل نظرونه شته چې په لنډ ډول وړاندی کېږي.

**لومړۍ نظریه دا ده چې:** په ډېر پخوا زمانه کې د همدغو اوسني پښه ییانو څخه او ددوی په سیمه او میشت ځای کې چی آریاییان دي، یو پاچا وو چې په همدی ژبه یی خبری کولی. ددی په خاطر چی د ځینو سترو قومونو په ژبه پاچا او پادشاه ته پاشا ویل کېده او اوس هم ویل کېږي، دغو خلکو او ژبې ته، له هماغه پاچا (پاشا) سره د اړیکو پر بنسټ چی سره یو ول پاشایی ویلي دي، چې بیا وروسته همدغه پاشایی نوم پښه یی شوی دی. دا هم جوته ده چی پښه ییانو چی مرکز یی لغمان دی په لرغونو وختونو کې خپله پادشاهی لرله. چینی نامتو زایر هیون تسنګ چې ۶۲۹ او ۶۴۵ میلادي کلونو ترمنځ لانپو (لغمان) ته راغلی وو په دې اړه لیکي: «ددی په خاطر چې د څو پېړیو څخه را په دېخوا ددې مملکت شاهی کورنۍ له منځه تللی او مشران یی د قدرت د نیولو په خاطر ددې نه پرته چې د یو بل برلاسی ومني، په خپلو کې مخالفتونه کړي او په آخر کې بیا د کیاپیشي (کاپیسا) تابع شوي دي.»(۱)
په لغتنامه دهخدا کې هم پښه یی (پشه یا پشی) د پاشایی او پادشاهی له ریښې څخه اشراف ښودل شوي دي.

**دویمه نظریه دا ده چې:** پښه یی له پشي څخه اخیستل شوی دی. پشي په پښه یی ژبه کې دیوال او هم د سیني د قفس پښتیو ته وایی چې په دې توګه کلک، غښتلی او ځواکمن معنا لري.

**دریمه نظریه دا ده چې:** دغه پښه یی نوم له بهاشه څخه اخیستل شوی دی چې پانیني یاد کړی او د سانسکرت ژبه یی ترې جوړه کړې ده. ځکه چې باش یا بهاش په پښه یی ژبه کې لفظ او ژبې ته وایی. د مثال په توګه که څوک د چا په ژبه نه پوهیږي وایی چې، اېلو کو باش کیا؟ (دا کومه ژبه کوي؟) او که پرې پوهیده وایی چې، اېلو امه باش آس. (دا مو هم ژبې دی.)

**څلورمه نظریه دا ده چې:** دا نوم له پیشاچه څخه اخیستل شوی دی او مرحوم دوست شینواري هم ویلي چې: زما په عقیده دغه کلیمه د اوسني (پښه یی) سره ډېر سمون لري.(۲)
پیشاچه او پیساسه هم یوه پښه یی کلمه ده، ځکه په پښه یی ژبه کې په ډېر کم توپیر (پې آسا) غوښه خوړونکي ته وایی او دا چې پښه ییانو د نورو عقایدو پرخلاف ترټولو د مخه د حیواناتو له غوښو څخه استفاده کوله، نو له همدی امله په دې نامه یاد شوي دي. له بله پلوه پخپله کاپیسا هم په پخوانیو متنونو کې د کیاپیشي او پیشاکا په بڼو راغلی چې پښه یی کوي او پښه یی کوونکي معنا لري. ځکه کیا او کېګا چې مخفف یې (کا) ده او په پښتو کې هم کارول کېږي په پښه یی کې کوي او پیشي خو هماغه پښه یی ښکاري.
همدارنګه د پیشاچه کلیمه د دیو په معنا هم راغلې چې په رښتیا هم پښه ییان او نور داردي او الینایی قومونه ډېر غښتلي، باتور، زړور او میړني خلک دي او په دې توګه پښه یی د پاشایی نوم په ګډون قوي او ځواکمن معنا لري. خو په هره توګه دا چې په ځینو لیکنو کې پاشایی او پشایی لیکل شوی دی هغه لومړۍ نظریه چې پښه یی له پاشا (پادشاه او پاچا) څخه اخیستل شوی نوم دی، سم ښکاري.
خدای بخښلی عبدالحی حبیبی لیکي: «دلته د هندوکش په جنوب او د هند په شمال غربي سرحدونو پرخوا ځیني ژبې لکه داردي او پیساچا پرخپل زاړه حال پاتې دي او دا ژبې تر هندي او ایراني ویش د مخه ځېنې آریایی ذخایر لري.»(۳) نو په یقیني توګه ویلی شو پیشاچه همدا پښه یی ژبه ده چې د هندوکش په جنوب

ختیځ کې د خلکو له خوا کارول کیږي او «د افغانستان په ټولو داردیکي ژبو کې ډیره او قوي پاتې شوې ده چې ډیر آریایی ممیزات او خصوصیات لری.»(۴)
پشه یی خلک او ژبه یی د تیر څو زره کلن تاریخ په اوږدو کې د بېلا بېلو دلیلونو له امله د الینا، ګندهاري، داردي، لغماني، دیګان او دیګاني، کوهستاني، نورستاني او نورو په نومونو هم یاد شوي دي چې په لاندې توګه د هر یوه د نومونې د وجې په اړه رڼا اچول کیږي.
*** الینا:** الینا یا الینایان د هغو لسو لرغونو آریایی قبیلو څخه یوه مهمه قبیله ده چې په ۲۰۰۰ ق م کې د آریانا په ختیځه برخه کې د سند د سیند تر څنګ د بهاراته د ستری قبیلی او د هغه له متحدینو سره جګړه کړې او په دې توګه نوم یې په تاریخ کې ثبت شوی دی.
د لسو آریایی مشرانو او یادو قبیلو د جګړې په هکله ډیرې لیکنی او تفصیلات شتون لري چې د هغې تکرار ته اړتیا نشته او یوازی ددې حقیقت روښانول غواړم چې د هغه زمانې د الینایی قبیلې تر ټولو مهمه او بنستیزه برخه همدا اوسني پشه بیان ول. یا په بل عبارت د هغه زمانې الینایان د اوسني پشه بیانو پلرونه او نیکونه دي. دا چې ځینې څیړونکي پشه بیان د الینایانو اولاده ګڼي او دوی ته الینایی وایی عینی او انکار نه منونکی شواهد شته او هغه دا چې د الینا د کلیمې ریښه د الینګار، الیشنګ او اله سای په نومونو کې چې درې سترې او لرغونې درې او سیمې دي وینو. دا واقعیت د مرحوم پوهاند حبیبی په لیکنه کې چې په هغه کې الینا د الینګار او الیشنګ خلکو ته ویل شوي په ښکاره توګه لیدلی شو.(۵)
مرحوم دوست محمد دوست د افغانستان ژبې او توکمونه په نامه خپل کتاب کې په صراحت سره پشه بیانو ته الینایی ویلي او همدارنګه پوهاند دکتور محمد حسین یمین د الینګار د وجه تسمیې په اړه ویلي چې«ددغه کلمې لومړۍ برخه الینا ده او هغه د لغمان د شمال او د نورستان د یوې قبیلې نوم دی او هغه دوهمه برخه ګار او ګر دی چې د ځای او سیمې مفهوم لري. نو الینګار د الینایانو میشت ځای ته وایی. د الینا جز د قبیلی په معنا د لغمان د الیشنګ او د نجراب (کاپیسا) د اله سای په نومونو کې هم لیدل کیږي.»(۶)
ددې لپاره چې له یوې خوا د الینګار، الیشنګ او اله سای درې او د هغه شاوخوا د پشه بیانو اصلی او لرغونی میشت ځای جوړوي او په پشه یی ژبه کې چې د سیمې اصلی ژبه ده، د الینګار او الیشنګ نومونه په ترتیب سره د ځای او کور او اله سای (د اله شاه خیل د کلمی مخفف او اړول شوی بڼه) د الینا د شاه خېل ته منسوب معنا لري او له بلې خوا اوس هم د یادو درو او د هغه شاوخوا زیاتره اوسیدونکي په همدی پشه یی ژبې خبرې کوي او پشه بیان دي او هم په خپله الینا نوم چې د زرغون، سمسور او د شین معنا لري یوه پشه یی کلمه ده، نو له دی واقعیت څخه دا په ډاګه کیږي چې الینایان د اوسني پشه بیانو او هم د نورو داردي قومونو اصلي پلرونه او نیکونه دي.
*** داردي:** دغه اصطلاح له ډیرو لرغونو وختونو څخه هغو خلکو او ژبو ته کارول شوی چې د هندوکش په سهیل او سهیل ختیځه سیمه کې پراته دي او پشه یی د هغه یو مهم قوم او ژبه جوړوي. یو شمیر څیړونکي په دې آند دي چې د داردي ژبو ګروپ د ایراني ژبو له ډلی څخه دی. یوه برخه بیا دغه ژبې له هندو آریایی ژبو څخه ګڼي او ځینې نور لکه ګریرسن هغه په هیڅ کوم یو پورې نه تړي، بلکې یوه آریایی لهجه یی بولي چې د ایراني او هندو ایراني ترمنځ یې پراختیا موندلې ده. په معاصر وخت کې څیړونکو داردي ژبې په دغو درېیو څانګو ویشلي.
۱ – مرکزي داردي ژبې (پشه یي او نور).
۲ – لویدیځې داردي یا نورستاني ژبې.
۳ – ختیځې یا خاص داردي ژبې. لکه کشمیری.

چې پشه یی، تیرایی، وټه پوري، ګواري، خواري او کلشه یی ژبې د داردي ژبو په مرکزي څانګه کې شامل دي.(۷)
د افغانستان د اوسني ژبو په لوحه کې داردي ژبې چې پشه یی یې مهمه ژبه ده د هندي ژبو له شمال لویدیځې ډلې څخه ګڼلې او شرحه یې په دې توګه ده.
**ب السنه داردي:** ۱۹- پشه یی ۲۰- ګورباتي ۲۱- کلشه یی ۲۲- تیرایی.(۸)
د فرانسوي واله دوپوسن د وینا پر بنسټ، له ځینو نښو او علایمو څخه داسې ښکاري چې داردیان یا دارا دیان له ډېرو لرغونو زمانو څخه له خپل ځایه بې ځای شوي نه دي، ژبه یې ډېره پخوانۍ او داسې کلمې پکښې موندل کیږي چې خپل ویدي بڼه یې ساتلې ده.(۹)
څرنګه چې مو وویل، داردي نوم او یا اصطلاح هغه خلکو او ژبو ته ویل شوې چې اکثریت یې پشه یی دي او له بلې خوا که خپله داردي نوم ته هم ځیر شو او د پشه یی ژبې په پام کې نیولو سره لږ څه دقت وکړو، پوهیږو چې دا هم یوه پشه یی کلمه ده. ځکه په پشه یی ژبه کې (دار) غر او (دی) چې یو روستاړی دی (له) ته وایی، چې په دې توګه له غره څخه او غرنی معنا لري. له همدی امله پشه بیان او ددې غرني سیمې نور اوسیدونکي د داردي (له غره او غرني) په نامه یاد شوي او وروسته همدا داردي نوم په کوهستاني اوښتی دی چې یوه معنا افاده کوي.(۱۰)
د پېښور نامتو لیکوال محمد پرویش شاهین هم لیکلي: «ددوی علمي او ادبي ژبه چې پشه یی یادیږي د لوی هند عالمانو د پساچې، پشایی او پساچه په نوم ضبط کړی ده، چې بیا وروسته ژب پوهانو دا زړې غریزې ژبې د یو عام نوم درد، دردي په نوم یو ځای کړي او دغه بې شمیره ژبو ته یې د دردک نوم ورکړی دی. خو که لیټون وشي نو د دردي نوم هم دغه ژبو له دې پشایانو ورکړی دی او په پشایی کې درد او دردي غرنۍ او کوهستانۍ ته وایی او دغه ټولې کوهستاني ژبې چې تر کونړ، نورستان، لغمان، دیر، سوات، چترال، ګلګت، داریل، تانګیر او کشمیر پورې خورې ورې پرتې دي دغه ټولې ددې پشه یی ژبې اولاده ده. دې ټولو ژبو کې فقط پشایی ژبه په زړو وختو کې د لیک لوست، قلم او کتاب مورخ ته رسیدلی ده.»(۱۱)
* **ګندهاری:** دا چې په تیرو وختونو کې د کابل او پېښور تر منځ سیمه یا په بل عبارت د کابل د سیند حوزه د ګندهارا په نامه یادیده، له همدی امله ددغه سیمی خلک او ژبه یی د ګندهاري په نامه یاد شوي دي. ځکه: کله چې له دریم ق م څخه تر دریم میلادی پیړی پوری د افغانستان په شمالی او شمال غربی سیمو کې پرشوي (پهلوی پارتی) ژبه معموله وه، په هندوکش کې ګندهاری پراکریت دویمه ژبه وه چی په خروشتي رسم الخط سره دود درلود. دغه ژبه چې ریښه یی بې له شکه ویدی دورې ته رسیږي، د هندوکش په ټوله سهیل ختیځه کې د سیمه ییزې او ملی ژبې په حیث پرې خبرې کېدې.(۱۲)
په دی کې هیڅ شک او تردید نشته چې پشه یی ژبه د ویدی او د ګندهاری پراکریت ژبې ادامه او بدلون موندلی بڼه ده، چی په دی سیمه کې تیره شوې او د مورګینسترن د وینا پر بنسټ هم: «پشه یی د هغی لرغونی ژبی اوسنی بڼه او زیږنده چی د اسلام څخه تر مخه په هندو بودایی کاپیسا او لمپاکا (لغمان) کې ویل کېده»(۱۳) دا واقعیت څرګندیږي چې ګندهارا د داسی سیمی نوم وو چې په هغه کې زیاتره د پشه یی خلکو نیکونو ژوند کړی او د ګندهاری پراکریت ژبه د اوسني پشه یی ژبې پخوانی بڼه وه او په زړه پوری لا دا چی په خپله ګندهارا هم یوه پشه یی کلمه ده. ګندهـ په پشه یی ژبه کې او هم په سنسکریت کې (سنسکریت د هغه وخت د بهشه یعنی د پشه یی ژبې اصلاح شوی او ګرامري نوم دی چې پانیني پرې ایښی دی) خوشبویی او (آرا) د (آریک) یعنې د راوړل له مصدر څخه راوړونکې معنا لري، چې په دې اساس ګنده آرا یا ګندهارا خوشبویی راوړونکی معنا ورکوی چی په رښتیا هم دغه د هیواد همیشه بهار سیمه د ګلانو د ډیروالي له وجې د معطره هوا لرونکی او خوشبویی راوړونکی ده.

خدای بخښلی میرغلام محمد غبار هم داسې یوه اشاره لري چې ګواکې پشه یی د ګندهارا اصلی ژبه وه. نومړی لیکي: «په افغانستان کې د هیطل د دولت د راپرزیدو څخه وروسته، ګندهارا د مختلفو سیمه ییزو تشکیلاتو لرونکی شوه. ددغه ولایت ترټولو لویه سلسله د کابل هماغه رتبیلان دي چې د نهمې مسیحی پیړۍ تر وروستیو پوری یی دوام درلود. په همدی توګه د پیښور څواکمن سیمه ییز مشران، چې په کورني خپلواکي سره یی ژوند کاوه، په دې ټوله موده کې د اسلام تر ظهوره د ګندهارا پر ولایت د بودایی دیانت چلېده، خو د زمانې په تیریدو په ګندهارا کې د افغانستان اصلی لرغونې آریایی ژبه متروکه شوه او خپل ځای یی پښتو ژبې ته پرېښود او یو څه د ګندهارا په شمالی برخو کې بېلا بېل سیمه ییزی لهجی لکه لرغونی باجوړي او پشه یی رامنځته شول.»(۱۴) او همدارنګه وایی چې: «د ګندهارا ولایت (د نجراو درې) د پشه یی څانګی څخه یوې برخې غرجستان ته په دې هجرت کې ګډون کړی او هلته له نورو طایفو سره ګډ شوي او په طبیعی توګه لهجه او ژبې یې بدلون موندلی دی، خو سره له دې هم تر اوسه په هماغه پخواني (پشه یی) نوم یادیږي.»(۱۵)

د افغانستان د ایراني او هندی آریایی ژبو په جدول کې هم پشه یی ژبه د تیراهی او ګوارباتي په ګډون د داردي او ګندهاري تر نامه لاندی راغلی(۱۶) او زیاته کړې یی ده چې د ویونکو د شمیر له مخی له دغو ژبو څخه تر ټولو مهمه یی پشه یی ده چې په دی وروستیو کې ملی ژبې مقام ته لوړه شوی ده.(۱۷) او هم کله چې د پنځلسمی پیړۍ په منځنیو وختونو د مرزا الغ بیګ او هم د ظهیرالدین محمد بابر په زمانو او له هغوی څخه په را وروسته مودو کې د هغوی د پلویانو له خوا پر ګندهاري قبیلی بریدونه کیږي، دوی زیاتره خپله سیمه پریږدي، د کونړ له سیند څخه تیریږي او د خپل هم قوم خلکو سره (چې همدا پشه ییان دي) کامه او کاتر (کافرستان) ته نږدې او د کابل سیند په درو کې تر تګاوه هستوګن کیږي. اوس دغه په اسلام مشرف شوي ګندهاریان چې له سوات او باجوړ څخه تر کونړ، لغمان او تګاب پورې خپاره شوي د ګندهاري او صافی په نومونو ویشل شوي دي.(۱۸)

له دغو یادونو او مثالونو څخه په ښه توګه ښکاري چې ګندهاري کلمه زیاتره پشه یی ژبې او خلکو ته کارول شوې ده.

*** لغماني:** ددی لپاره چې لغمان زموږ د هیواد د ختیځو ولایتونو څخه دی او په لرغونو وختونو کې د هغه ټول اوسیدونکی هم پشه ییان ول، له همدی امله په ځینو لیکنو کې د هغه خلک او ژبه یی هم د لغماني په نامه یاد شوي دي چې دا هم پشه یی ریښه لري. ددې لپاره چې لغمان د یو تاریخی او پخواني نوم اوسنی او اړول شوی بڼه ده، د پیړیو په اوږدو کې په بېلا بېلو شکلونو راغلی او په اوسني بدلون موندلي بڼه پاتې شوی دی.

لامپاکا، لانپو، لامګان، لمګان، لمکان، لمغان، لمغانات، لمقان او داسی نور د لغمان پخواني نومونه او بڼې دي چې د تاریخ په اوږدو کې په بېلا بېلو شکلونو ثبت شوي دي. دغه نومونه کله پر محدودې ساحې او کله هم تر اوسني ساحې څخه پر پراخې سیمې اطلاق شوي دي، چې کله آن د کابل او پیښور تر منځ ټوله سیمه د لغمان او لمغانات په نامه یاده شوی ده او د لغمان یا د لمغانات نوم د کاپیسا له سیمی پرته ټولو پشه یی میشتو سیمو ته هم کارول شوی دی.

د لامپاکا په نوم کې د (لام) کلمه یو پشه یی نوم دی چې د هغه مخینه آن آریایی ژبې ته رسیږي او معنا یی کلی دی او (پاکا) د یو روایت پربنسټ د هغه چا نوم وو چې کلي پرې یاد شوي او ورته منسوب دي.(۱۹) د لام کلمه په مهترلام، نورلام، ګُل لام (کهنه ده)، نجلام، نولام، ننګه لام، کونټه لام، لوګرلام یا لګه لام، نچه لام، پیلام او نورو کې هم شته چې د ښارونو، کلیو او درو نومونه دي او د ننګرهار، لغمان، کونړ او کاپیسا په ولایتونو کې موقعیت لري.

لانپو چې په هغه کې لان (له لانه څخه اخیستل شوی) دری یا آریایی کلمه ده او (پو) په پشه یی کې خاورې ته وایی، معنا یی د کلیو خاوره یا سرزمین ده چې په رښتیا هم له نفوسو څخه ډکه او آباده سیمه ده.
لامګان چې په لمګان، لمقان، لمغانات او بالاخره په لغمان اوښتی او په لیکنو کې راغلی، (لام) یی پشه یی کلمه ده چې کلی او کلي معنا لري او (ګان) یې چې یو روستاړی دی او مشترکه آریایی ریښه لري د مالکیت او خاوند معنا ورکوي او په دی توګه د کلیو او د سیمې د خاوندانو او مالکینو (دهنشین) په معنا راځي چې وروسته همدا د پشه یی لام کلمه د دري په (ده) تعویض شوی او لمګان ته دهګان او دیګان ویلي دي.
دا چې له قدیم الایام څخه په لغمان او د هغه په شاوخوا سیمه کې پشه ییانو ژوند کاوه او څرنګه چې څرګنده شوه د هغه نوم هم پشه یی ریښه لري، په همدی دلیل په تیرو وختونو کې په ځانګړي توګه د ننګرهار، کونړ او د لغمان پشه ییان او هم ژبه یی د لغماني په نامه یاد شوي دي.
مونت ستوارت الفنستن هم د کابل سلطنت بیان په نوم خپل کتاب کې له لغماني، پوشاه او پوشاوي څخه یادونه کړی او وایی: «زما په فکر د هغه پوشایی اصل ګڼل کیږي چې بابر یی ذکر کړی دی او اوس هم په کوهستان کې میندل کیږي» نوموړی د کافرانو د ژبو د ځانګړتیاوو په اړه وایی چې: «ټولی یی له سنسکرت سره یو راز اړیکی لري، دغه ټولې ژبې یو خصوصیت لري او هغه دا چې د سلګونو په ځای شل ګون حسابوي او ددوی د زر عدد (چې دوی یی د پښتو یا دری په نامه یادوي) له څلورو سوو یا د شلو شل ګونو څخه جوړ دی. دغه ټول حقایق په لغماني یا دیګاني ژبې باندی هم تطبیقیږي چې ښکاری د کافري یوه لهجه وي او له دی نه داسی نتیجه اخیستل کیږی چې لغمانیان یا دیګانان پخوا کافران ول چې وروسته یی د اسلام دین منلی دی. ګومان کوم چې د کابل د کوهستان اوسیدونکي هم له همدغه اصل څخه وو. په دی چې مخصوصاً د کوهستان نوم هغه دی چې په ټولو هغو دلالت کوي چې په دی وختو کې مسلمان شوي دي.»(۲۰) له پورتنیو څرګندونو څخه ښکاري چې همدا پشه ییان او ژبه یې د ځینو لیکوالو له خوا د لغماني په نامه هم یاد شوي دي.
*** دهګان:** یا دیګان یوه دری کلمه چې دکلي خاوند او دهنشین په معنا راځي او زیاتره پشه یی خلکو او دیګانی یا دیګانو پشه یی ژبې ته ویل شوي دي، چې فارسي ژبو د لامګان یا لمګان د کلمې پر ځای کارولې ده، چې په هغه کې یوازې د پشه یی لام کلمه د دري په (ده) تبدیله شوې ده.
که څه هم د دري ژبې په ادبیاتو کې د دهقان کلمه له ډېره پخوا څخه په بیلا بیلو معناګانو راغلې او په عمومی توګه د بزګر او بزرګر په مفهوم په ټول افغانستان کې معمول او کارول کیږی، خو د دهګان بڼه یې زیاتره د پشه یی قوم یا ملیت په مفهوم استعمال شوې ده. په کونړ ولایت کې اوس هم پشه یانو ته دهکان او ژبې ته یی دېګانو وایی.
د دایرت المعارف فارسی په لومړی جلد کې چې د غلام محسین مصاحب په سرپرستی ایران کې لیکل شوی او چاپ شوی دی له افغانانو سره د تماس نیولو په ترڅ کې، پشه ییان یې د افغانستان له هندو آریاییانو تر ټولو مهمو قبیلو څخه بللي او ویلی دي چې د دوی سیمه بیز نوم دهګان دی.
الفنستن په خپل کتاب کې پشه ییان د دهګان قوم او ملت په نامه یاد کړي او ویلی دي چې دوی د افغانستان د شمال ختیځ په ستره برخه کې ژوند کوی او په داسی ژبې ګړیږی چې په بابرنامه، آیین اکبری او نورو منابعو کې د لغماني په نامه یادشوي دي.(۲۱)
محمد حیات خان په خپل کتاب حیات افغاني کې چې پښتو ژباړه یې هم شته، پشه ییان د دیګان قوم په نام یادکړي او لیکلي دي چې دا قوم په لومړیو کې په زیاته پیمانه د افغانستان په شمال شرق کې هستوګن و او اوس یوازې په کونړ، بر باجوړ او ځینې نوریې په لغمان کې اوسیږي او په داسی ژبه غږیږی چې د لغماني په نامه یاده شوې ده.

له پورتنیو نظرونو او لیکنو څخه داپه ډاګه کېږي چې دهګان یا دیګان هغه نوم دی چې پشه ییانو په تېره د لغمان، ننګرهار او کونړ پشه ییانو ته ویل شوي او په پخوانیو وختونو کې له دې ځایه د هېواد نورو سیمو ته هم کوچېدلي او په دې نامه یاد شوي دي.

*** کوهستانی:** څرنګه چې مخکې هم ترې یادونه وشوه، پخوا پشه یی خلک او ددغی سیمې اوسېدونکي د داردی په نامه چې له غره څخه او غرنی معنا لری، یادېدل، چی بیا وروسته همدغه داردی پشه یی کلمه د دري په کوهستاني کلمی اوښتې ده، چې اوس ټول پشه ییان اوځینې نور په دې نامه یادیږي او خپله پشه ییان هم خپل ژبی او خلکو ته کوهستانی وایی، دحیات افغانی د کتاب لیکوال لیکي، په پشه یی یا پشاوي په نوم یو بل قوم په کوهستان کې (چې موخه یی دپروان اوکاپیسا کوهستان دی) شته چې دهغوی په اړه محمد بابرشاه لیکي چې دوی ځانته ځانګړې ژبه لري، دغه ژبه په نظر کې هندي ښکاري.(۲۲)

مونت ستوارت الفنستن د کوهستانی تاجکانو (د کابل د کوهستان اوسېدونکو) په اړه څرګندونې لري او زیاتوي چې «د دغه سیمی ځواک خلکو ته داسې یو کرکتر ورپه برخه کړې چې له هغو تاجکانو سره چې وړاندې یاد شول ډېر توپیر لري. دوی له حکومته تقریباً مستقل او په عمومی توګه خپلو مشرانوته تابع دي. دوی د شخصي کرکتر له مخې زړه ور، تند او سرکشه او جګړې ته داسې لېوال دي چې تر بړستن لاندې مرګ ځان ته ننګ ګڼی.

دوی دپوځ په تېره دکوهستان ډېر اعلی پیاده ګان جوړوی، خو ددوی زړه ورتیا عموماً ددوی په کورنیو بې اتفاقیو کې ضایع کیږي.»

نوموړی دخپل کتاب په پاورقۍ کې لیکي چې له کوهستاني څخه دپشه یی نوم می هم اورېدلی دی، خومتاسف یم چې ددوی دتاریخ په اړه مې څېړنه ونه کړه او وروسته راته معلومه شوه بابر له دوی څخه یادونه کړې وه، چې ځانته ژبه یې لرله.(۲۳) له همدې سببه هم ده چې ځینې، پشه ییان د کوهستانی تاجیکانو له جملی څخه او ځینې یی کلیوال اوسیدونکي ګڼي او لیکلي دي چې «په دې شمېر کې د لغمان او کونړ پشه ییان اودلوګر اوړمړي په حساب راځي.»(۲۴) چې که دانظر دپشه یانو دغیر پښتون والي دتفکر له مخی وي، بیله مسألله ده اوپرته له دې داسې قومونه شته چې خپلې ژبې یې له لاسه ورکړې دي، خو داسې هیڅ یوه ژبه نشته چې دځانګړي قوم څښتن نه وي. لکه پشه یی چې دلغمانی، کوهستانی اونورو په نومونو هم یادشوی دی.

که څه هم داسې نظریې شته، ددې لپاره چې کوشانیان دسیتي له قبایلو څخه د یوچي په نامه مهاجر خلک و، کاپیسا سیمې ته راښکته اودلته یې هستوګنه غوره کړ او روښانه مدنیت یې له ځانه پرېښود او بیا دهغوی د واکمنی د ختمېدو او د وخت د تېرېدو په پایله کې دوی د پشه یی خلکو ترمنځ چې دسیمی اصلي اوسیدونکي وومنحل شول.له همدې امله پشه ییانو ته دکوشانیانو په اړه کوهستانی او کوشتانی ویل کیږي. د لغمان په الینګار کې د کوشي په نوم یو غر دی چې د کوشانیانو له نامه سره بې اړیکه نه دی. د لغمان غیر پشه یی خلک اوس هم پشه ییانوته کوشتانی وایی اوهمدارنګه پشه ییان د کاپیسا ریزه کوهستان نوم د ریزه کوشانیان یا د وړوکوشانیانو له نامه څخه ګڼي، چې ټول وګړي یې پشه یی دي. د تواریخ خورشید جهان لیکوال هم لیکي چې: پشي یا پشاوي هغه طایفه ده چې په دې کوهستان کې اوسیږي، ددوی ژبه هندی ژبې ته ورته ده.(۲۵)

میجر جراح ایچ. دبلیو بیلو پشه ییان، چې موخه یې د کاپیسا پشه ییان دي تاجک بللي اولیکي: «نو دهندوکش دجنوبي لمنو هندي قومونه چې اسلام یې منلی دی په فارسي ګړیږی (او هم تر یو حده په خپل بومي لهجی باندې) هم د تاجک په نامه یادیږی.»(۲۶)

د پشه يی ژبې يو ليکوال فضل الرحمن صادقی د کوهستان او کوهستاني نوم د کوئيستان څخه اخيستل شوی بولي او وايی چې کوئي او يا کئې (کيې) په پشه يی کې خوون او زيتون ته وايي (س) يې نسبتي توری او (تان) د ځای معنا لري چې په دې توګه کوئيستان يا کئيستان د زيتون سيمې ته وايی او کيدار او کيداريان هم د (کيې) او (دار) څخه ترکيبي نوم بولي او وايی چې کيېدار يا کيدار چې د پشه ييانو په سيمو کې پيدا کيږي د کلک او غښتلي معنا لري.
*** نورستاني :** البته زموږ په هېواد کې په قومي او ملي مفهوم د نورستاني په نوم يو پيژندل شوی قوم او يا مليت شتون لري چې دا مهال د شرقي هندوکش په جنوبي لمنو کې ژوند کوي، خو ځينې پشه ييان هم شته چې د نورستان ولايت د سيمی اصلي او لرغوني اوسېدونکي دي، چې په همدې دليل دوی ته هم نورستاني ويل کيږي او يا ځينې کله چې پخواني کافر يا کافرستان پرځای نورستاني کلمه کاروي، په ځينو مواردو کې تېروتنه رامنځته کيږي. ځکه د دين او عقيدې موضوع ځانګړي قوم او يا ژبې ته ارتباط نه لري او پشه يی خو يو ډېر پخوانی او لرغونی نوم دی او کله چې دغه خلک لا مسلمان شوي هم نه ول د پشه يی په نامه يادېدل. په داسی حال کې چې د نورستان کلمه يا نورستاني اسلام باندې ددوی د مشرف کېدو څخه وروسته د اميرعبدالرحمن خان د واکمنی پر محال پر دغو سيمو او خلکو ايښودل شوی، چې په دې کې د نورستان د نورګرام، دوآب او د واما د ولسواليو پشه ييان هم شامليږي. ځينې هم داسې استدلال کوي چې ګواکې د نور کلمه پدې سيمه کې پخوانۍ ده. لکه د نورګل (ګل په فتحه سره په پشه يی کې درې ته وايی) نورلام صاحب، درهٔ نور او په نورو نومونو کې چې د کونړ، لغمان او د ننګرهار ولايتونو پشه يی ميشتو سيمو پورې اړه لري، چې که دا سمه وي نو دا هم بيا زموږ د پشه ييانو مال دی چې ډېره لرغونتيا لري او دغو سيمو ته د اسلام له راتګ څخه مخکی هم دغو نومونو شتون درلود. ځينې د نورستاني ژبو د خصوصياتو په اړه ليکي چې: «ددغو ټولو ژبو له ځانګړتياوو څخه يوه دا ده چې په شمېر کې د سلو پر ځای شل شل او د زرو پر ځای څلور سوه کاروي، البته په څو وروسته لسيزو کې په راديو کابل کې يوه برنامه په (پشه يی) ژبې خپريږي چې ويل کيږي هماغه د نورستان د خلکو ژبه ده.»(۲۷)
فيض محمد کاتب پشه ييان او نورستانيان د جديد الاسلام په نامه ياد کړي او ليکي: «دغه فرقه تقريباً پنځه سوه زره تنه دي او د هندوکش د غرونو د لړۍ په بطن کې له پنجشير او د بدخشان د منجان له کوتل څخه تر لمقان (لغمان)، چترال، کاشغر او د آريت او شماش، کلمان او آسماره پورې او نورو، پخوا د اسلام مبين دين منلی و او باقي په ۱۳۱۳ هجري قمري سنه کې د امير عبدالرحمن له خوا د لښکرو په سوق مسخر، مطيع او د حضرت خيرالبشر ددين منونکي شول.»(۲۸)
سربيره پر يادو نومونو ددې لپاره چې پشه ييان د تيري کوونکو او نيواکګرو پر وړاندې د جهاد او مبارزې ډېر ليوالتيا لري او کله چې د يو کار د ترسره کولو لپاره يو ځلي خپله اوږه وخوزوي او ووايی چې (شاړې که شاړمان) يعنې ځئ چې لاړشو، هغه ترسره کوي. نو په چارو کې ددوی د همدې جديت او خوزنتوب له سببه د شاړې کلمه چې موخه يی تلل او لاس په کار کېدل دي په خپلو خبرو کې ډېر کاروي. له همدې امله له څه باندی يوې پيړۍ څخه راپه دی خوا په تيره له بريتانويانو او شورويانو سره د جهاد او مبارزو په بهير کې په تيره د مشرقي خلک، پشه ييانو ته د شاړي نوم چې د پشه يی د (شاړيک = تلل) له مصدر څخه د امر يوه کلمه ده کاروي او د (ځئ) معنا لري، نه د کوم ژبې او د قوم نوم. چې له نيکه مرغه اوس پوه او هوشيار خلک د شاړي د نامه پرځای پشه يی چې له پاشا، پاچا او پادشاه څخه اخيستل شوی څو زره کلن نوم دی، کاروي.